هفته واره رساله: 360
WEEKLY BOOKLET: 360

# امیرِ اهلِسُنَّت او د ساداتو تعظیم

(قسط: اول)

PASHTO



- سیِّد چا ته وئیلے شي؟
- د ساداتِ کرامو پهٔ بارګاه کښې 25 لاکهه روپۍ نذرانه
- 34 کاله مخکښینے وصیّت
- د ساداتِ کرامو د پاره خصوصي پیغام

پیشکش: (دعوتِ اسلامی)
المدینة العلمیه
Islamic Research Center

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

## د امیرِ اهلِسُنَّت وَصِیّت

عاشقِ صحابه او اهلِ بیت، باني دعوتِ اِسلامي، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علامه مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د یو سَیّد صاحب پهٔ وفات باندې دې تحریر لیکونکي ته څهٔ داسې واټس ایپ وکړو کوم چې د دې رسالې پهٔ مناسبت سره وړاندې کولے شي، د امیرِ اهلِسُنَّت پهٔ دې پیغام کښې د هر عاشقِ رسول د پاره ډیر لوئي سبق دے، پهٔ غور سره یې ولولئ او پهٔ دې ځان پوهه کړئ او پهٔ خپل زړهٔ کښې یې محفوظ کړئ۔ هغوئي فرمائي: "که چرې پهٔ آخرت کښې بے ویرې کیدل غواړې نو د سَیّدانو نه ویریږه (یعني د هغوئي پهٔ باره کښې د څهٔ نامناسبه خبرې کولو، اوریدو او کتو نه ځان ساته) اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! پهٔ آخرت کښې به درسره ویره نه وي۔ د قیامت پهٔ ورځ به درته د سَیّدانو د نیکه بابا جان رحمتِ عالمیان صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له خوا د "لَا تَحزَن یعني غم مهٔ کوه" پیغام میلاؤیږي بلکې وئیلے به شي چې زما د اولاد سره مَحَبَّت کوونکیه نن راشه! زما د رحمت پهٔ لمنه کښې پټ شه او جنَّت ته داخل شه! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! "

باغِ جنّت میں محمد مسکراتے جائیں گے
پھول رحمت کے جھڑیں گے ہم اُٹھاتے جائیں گے

امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د آلِ رسول پهٔ شان او عظمت کښې ډیرې رسالې، مناقِب، بیانونه او ډیر شعرونه لیکلي دي۔ د هغوئي پهٔ صحبت کښې پاتې کیدونکو او پهٔ ټوله دُنیا کښې د هغوئي مَدَني مذاکرو کتونکو او اوریدونکو به ډیر ځل پهٔ مَدَني چینل لیدلي او اوریدلي وي چې امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه خاص طور خپلو مُریدانو او معتقِیدنو (یعنې

مَحَبَّت کوونکو) او عام طور ټولو مسلمانانو ته د ساداتِ کِرامو د اَدَب او اِحترام ډیر تاکید فرمائي، د هغوئي خپل انداز دا دے چې ساداتِ کرام پۀ ښکلو القاباتو سره رابلي، د ساداتِ کرامو سره پۀ عاجزی او انکساری خبرې کوي او که څۀ څیز تقسیموي او سَیّد صاحب هم موجود وي نو د اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه پۀ شان هغۀ ته د عامو کَسانو پۀ نسبت د سَیّد کیدو له وجهې ډبل ورکوي بلکې کتونکو لیدلي دي چې ساداتِ کرامو ته د ورکولو د عاجزی نه دومره ډک انداز اختیاروي چې ګمان کیږي لکه چې څۀ "**ورکوي**" نۀ بلکې د سَیّد صاحب نه څۀ "**اخلي**".

د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د ساداتِ کرامو سره د اَدَب او تعظیم د واقعاتو یو لوئي لِسټ دے، کوم چې پۀ دې مختصره رساله کښې بیانول ډیر ګران کار دے۔ نیت دے چې د عظیم عاشقِ صحابه او اهلِ بیت، امامِ امیرِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د عُرس مبارک د 25 صفر شریف پۀ نسبت سره د دې رسالې یو قِسط "د امیرِ اهلِسُنَّت د ساداتِ کرامو د تعظیم واقعاتو" کښې کم از کم 25 واقعات بیان کړے شي۔ الله پاک دې پۀ خیر او اِخلاص سره د دې توفیق راعطا کړي او مونږ دې د ساداتِ کرامو اَدَب کوونکي او وفادار وساتي، د قیامت پۀ ورځ دې د دوئي د نیکه بابا جان رحمتِ عالمیان صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت راعطا کړي او پۀ جنَّتُ الفردوس کښې دې د هغوئي ګاوَنډ رانصیب کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

آلِ اَطہار کے میں گیت ہمیشہ گاؤں　　خوش رہے مجھ سے تیری آل مدینے والے

طالبِ دعائے غمِ مدینه و بقیع و بے حساب مغفرت

ابو محمد طاهرعطاري مَدَني عفی عنه

(8 ذی الحج شریف 1444 هجری ، شبِ ہفته)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# امیرِ اھلِسُنَّت او د ساداتو تعظیم

**دُعائے خلیفۂ امیرِ اھلِسُنَّت:** یا الله پاکه! څوک چې دا رساله " **امیرِ اھلِسُنَّت او د ساداتو تعظیم** " ولولي یا واوري، د هغۀ د قیامت په ورځ د ساداتِ کرامو د نیکه بابا جان، رحمتِ عالمیان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شفاعت نصیب کړې او په جنَّتُ الفردوس کښې د خپل خوږ آخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاؤنډ ورعطا کړې- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مولیٰ علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته نصیحت

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** یَا عَلِیُّ! اِحْفَظْ عَنِّیْ خَصْلَتَیْنِ اَتَانِیْ بِھِمَا جِبْرِیْلُ عَلَیْہِ السَّلَامُ اَکْثِرِ الصَّلَاۃَ عَلَیَّ بِالسَّحَرِ وَالْاِسْتِغْفَارَ بِالْمَغْرِبِ- اے علي! زما نه دوه عادتونه زده کړه کوم چې جبرائیل عَلَیْہِ السَّلَام ما ته راوړلي دي: (1) د سحر په وخت په ما باندې ډیر زیات دُرُودِ پاک لوله او (2) د ماښام په وخت ډیر زیات اِستِغفار کوه.

(القربۃ الی رب العلمین لابن بشکوال، ص 90)

ہر مرض کی دوا دُرود شریف — دافعِ ہر بَلا دُرود شریف
حاجتیں سب رَوا ہُوئیں اُس کی — ہے عَجَب کیمیا دُرود شریف

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د وخت د مجدّد پهٔ اوګو باندې سورلۍ

پالکے [1] د دروازے پهٔ لور راوړے شو، پهٔ سوؤنو مئینانو د زیارت پهٔ شوق کښې دروازے ته سترګې وې او پهٔ انتظار وو چې پهٔ دې کښې د اودس کولو سره ښکلې جامې اغوستونکي، عمامه پهٔ سر کوونکي، ډیر د عالِمانه وقار سره د کور نه بهر راغلو، د نوراني مخ نه یې د نُور شعلې خورې وې، د عاشقانو د ګڼې نه راووتلو او پهٔ مشکله ورته تر سورلۍ پورې د رسَیّدو موقع میلاؤ شوه، پهٔ پالکي کښې کښیناستو او پالکے روان شو. لا یو څو قدمه وړاندې تلي وو چې د دننه نه اواز راغلے چې سورلۍ ودروئ. د حکم مطابق پالکے پهٔ زمکه باندې کیښودے شو، ټول خلق خاموشه شول، د ناقلارۍ او د بے چینۍ پهٔ حالت کښې عاشقِ ماهِ رسالت، امام اهلِسُنَّت، اعلیٰ حضرت الشّاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بهر تشریف راوړلو او پالکي اوچتوونکو ته یې پهٔ ژړغوني انداز کښې ارشاد ووفرمائیلو چې تاسو له د خپل جدِّ اعلیٰ، مُحَمَّدٌ رَّسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وسیله درکووم! رښتیا ووایئ چې پهٔ تاسو کښې آلِ رسول [یعنې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ اولاد کښې] څوک دي؟ ځکه چې زما د ایمان ذوق زما د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مکے خوشبوئي محسوسوي، ناڅاپه د داسې قِسمه غیر متوقع سوال اوریدو سره پهٔ هغوئي کښې یو مزدور سَیّد زاده شهزاده نظر ښکته کړو او پهٔ غلي لهجه کښې یې جواب ورکړو چې د مزدور نه کار اخستے کیږي، د ذات پوښتنه

[1] ...د لرګي نه جوړ کړے شوي پهٔ اوږد والي کښې د څلورو واړو اړخونو نه بند [د ډولۍ پهٔ شکل] د دوو دروازو سورلۍ ته پالکے وئیلے شي، د دې نه مخکښې وروستو پیړ لرګي لګیدلي وي، کوم چې مزدور پهٔ خپلو اوګو باندې ږدي او د یو ځائے نه بل ځائے ته خلق یا سامان وړي.

ترينه نه كيږي، تاسو زما د نيكه بابا جان، رحمتِ عالميان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وسيلې راكولو سره پهٔ ما زما راز ظاهر كړو، زهٔ د مرتضیٰ د چمن، د فاطِمې د باغ گل يم، بَل څهٔ كار نه راتلو، پهٔ دې كار كولو خپل بال بچ له رزق گټم، لا د سَيِّد زاده خبره مكمل شوې نه وه چې هٰغه خلقو دا نا اشنا منظر وليدو چې د عالَمِ اِسلام دومره لوئي امام او د زمانې مُجَدِّد د خپل سر نه عمامه مباركه كوزه كړه او د سَيِّد زاده پهٔ ښپو كښې يې كېښوده، د عاشقِ صادق د ستركو نه اوښكې رواني وې، لاسونه يې جوړه كړل او ډير پهٔ عاجزئ او انكسارئ سره يې ووئيل چې اے قدرمنده شهزاده! زما گستاخي معاف كړه، پهٔ ناپوهئ كښې زما نه خطا وشوه، د چا د ښپو پيزار چې زما د سر تاج دے ما د هغوئي پهٔ اوگو سورلي وكړه! كه د قيامت پهٔ ورځ ستاسو نيكه بابا جان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه وكړه چې اے احمد رضا آيا زما د ځوي نازكې اوگې دې د پاره وې چې ستا بوج اوچت كړي نو زهٔ به څهٔ جواب وركووم؟ د قيامت پهٔ هٰغه ورځ به زهٔ څومره رسوا شم؟ آخر پهٔ شهزاده څو څو كرته د ځان معاف كولو نه پس عاشقِ صادق پهٔ عشق كښې ډوب يو بَل درخواست وړاندې كړو چې د ناپوهئ له وجهې زما نه خطا شوې ده نو اوس به د دې كفاره هله ادا كيږي چې تاسو پهٔ پالكي كښې كېننئ او زهٔ پالكے پهٔ خپلو اوگو كيږدم۔ د خلقو د ستركو نه اوښكې رواني وې او بعضو پهٔ چغو چغو ژړل چې پهٔ زرگونو كرته د انكار كولو باوجود يې سَيِّد شهزاده پهٔ پالكي كښې كښينولو او د عالَمِ اِسلام د خپل وخت د ټولو نه لوئي عالم او مفتي بلكې مجدّد هٰغه سَيِّد شهزاده پهٔ پالكي كښې كښينولے وو او پهٔ خپلو اوگو باندې يې وړلو۔ (انوارِ رضا، ص 415۔ زلف و زنجير، ص 76 تا 78 ملخصاً )

چا رښتیا وئیلي دي:

*قدرِ زَر، زَرگر بِداندُ و قدرِ جَوہر جَوہری*

د سرو زرو پهٔ قدر زرگر او د لعلونو پهٔ قدر جوهري پوهیږي۔

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د سَیّد صاحب پهٔ فرمائش یې پهٔ 7 ورځو کښې کتاب ولیکلو

د ساداتِ کرامو د اکرام او تعظیم دا یوه واقعه نه ده بلکې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ساداتِ کرامو سره د مَحَبَّت پهٔ واقعاتو ډیر صفحات لیکلے کیدے شي، امام اهلِسُنَّت، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته پهٔ 3 شوّال مبارک 1329 هجری حضرت سَیّد محمد احسن صاحب بریلوي (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) یو خط ولیکلو چې زه پهٔ لسم شوال مبارک حج له ځم او نور ډیر خلق ځي، د حج طریقه او آداب ولیکئ او چاپ یې کړئ۔ د سَیّد صاحب فرمائش یې پوره کړو او عاشق ماهِ رسالت، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې د سَیّد صاحب پهٔ حکم باندې مې زر (صرف پهٔ 7 ورځو کښې) د 45 صفحو د عِلمي دُنیا مشهوره او معروفه رساله پهٔ نوم د ”**اَنْوَارُ الْبِشَارَةِ فِیْ مَسَائِلِ الحَجِّ وَالزِّیَارَةِ (1329ھ)**“ (د حج او زیارت پهٔ مسئلو کښې د خوشحالۍ سپرلي) ولیکله۔ (فتاویٰ رضویه ، 725/10 بتغیر)

## د رضا فیضان

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ساداتِ کرامو د اَدَب او اِحترام د ښکلي

صفت نه د هغوئي د خاندان بلکې د هغوئي د مُریدانو او خُلفاؤ هم ډېره حصه نصیب شوه۔ د لوستونکو د ذوق او شوق نور زیاتولو د پاره صرف د یو مُرید او د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د خلیفه، شیخُ العَرَبِ وَ العَجَم، د مدینے د میلمنو کوربه، د قطبِ مدینه، د امیرِ اھلِسُنَّت د مُرشِد، حضرت علامه مولانا ضیاءُ الدِّین احمد مَدَني قادري رضوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د ساداتِ کرامو سره د ملاقات او اَدَب او تعظیم انداز لولو:

## سَیِّدي قُطبِ مدینه او د ساداتو تعظیم

د قُطبِ مدینه، حضرت علّامه مولانا ضیاءُ الدِّین احمد مَدَني قادري رضوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د نمسیٰ کره چې کله د ځوي وِلادت وشو نو د هغوئي نوم **"ولید"** کیښودے شو۔ چې کله د قطبِ مدینه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په خدمت کښې د دُعا او برکت د پاره هغوئي وړاندې کړے شول نو قطبِ مدینه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په غیږ کښې واخستو او تر ځهٔ وخته پورې یې درود شریف لوستلو او بیا یې د خپل ګړوَسي ښېې ښکل کړې او اوئې فرمائیل چې دا **"سَیِّد"** دے ځکه چې د هغوئي دا نمسیٰ د حضرت سَیِّد سامي برزنجي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه کور وداني محترمه وه۔ (سیدی ضیاء الدین احمد القادری، 532/1 بتغیر قلیل)

## د قطبِ مدینه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د ساداتِ کرامو سره د مَحَبَّت ډک انداز

قطبِ مدینه، حضرت علامه مولانا ضیاءُ الدِّین احمد مَدَني قادري رضوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به د ساداتِ کرامو ډېر زیات اِحترام کولو، چې کله به

ځوک سَیِّد صاحب د هغوئي سره میلاویدو نو بغیر د چا د وئیلو نه به یې د سَیِّد صاحب لاس ښکلولو. د عشق او مَحَبَّت نه ډک دا انداز به چې یې ولیدلو نو د هغوئي پۀ خدمت کښې حاضر نور خلق به پوهه شول چې دا "**سَیِّد صاحب**" دے.

لکه د شیخ عبد الحق رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د قول مطابق:

"د جمال نسیم د مَحَبَّت بوئي د عاشق د مَحَبَّت دماغو ته ورسولو"

یعنې ښکلې هوا د محبوب خوشبوئي د رښتوني عاشق د عشق او مَحَبَّت نه ډک ذهن ته ورسوله.

## د وخت د غزالي اَدَب او اِحترام

د وخت د غزالي، د حضرت علامه سَیِّد احمد سعید کاظمي شاه صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د منع کولو باوجود به سَیِّدي قطبِ مدینه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د هغوئي لاسونه ښکلول او د هغوئي د تعظیم د پاره به د تکلیف باوجود ودریدلو. (سیدی ضیاء الدین احمد القادری، 531/1) کله به داسې هم وشول چې د وخت غزالي او قطبِ مدینه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِما به د یو بَل د لاسونو بلکې پۀ ښپو ښکلولو کښې د یو بَل نه د مخکښې کیدو کوشش کولو.

تیری نسلِ پاک میں ہے بچّہ بچّہ نور کا  تُو ہے عَینِ نور تیرا سب گھرانا نور کا

(حدائقِ بخشش، ص 248)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!  صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## کامِل مُرید د کامِل پیر عکس وي

پهٔ اصل کښې د دې حضراتو د واقعاتو بیانولو سره دا وئیل مقصد دے چې ”**لکه ځنګه څوي د پلار راز وي**“ هم داسې کامِل مُرید د خپل کامِل پیر عکس وي، چې کله پیر او مُرشِد د آلِ رسول دومره اَدَب او اِحترام کوي نو پهٔ کامِل مُرید کښې به د کامِل پیر او مرشد د دې صفت اثر لازمي پهٔ نظر راځي او کامِل مُرید به د خپل پیر او مرشِد پهٔ طریقه باندې ځي او د ساداتِ کرامو د مرتبے به ښه پوره خیال ساتي ځکه چې هغهٔ د خپل پیر او مرشد خلیفه یا وکیل پهٔ دې شکل کښې دے چې هغهٔ د خپل پیر او مرشد پهٔ انداز او افعالو، اخلاقو او اعتقاد باندې تلونکے وي. د الله پاک د خوږ آخري نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د آلِ پاک سره د مَحَبَّت صفت د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پهٔ برکت د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ پهٔ هر یو رَګ کښې موجود دے. راځئ چې اوس د خپلې اصلې موضوع پهٔ لور راشو او د امیرِ اهلِسُنَّت د ساداتِ کرامو د تعظیم د واقعاتو او انداز پهٔ باره کښې ولولو خو د ټولو نه مخکښې پهٔ دې باندې ځان پوهه کړئ چې د ساداتِ کرامو یعنې د آلِ رسول اَدَب او اِحترام ځکه ضروري دے چې د دې پاکو حضراتو سلسلهٔ نَسَب د الله پاک د خوږ نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره میلاؤیږي او د مَحَبَّت اُصول دي چې کله د چا د چا سره مَحَبَّت شي نو د هغوئي سره د نسبت لرونکي هر څیز سره مَحَبَّت شي او که د یو څیز نسبت د محبوب د بدن سره شي نو بیا ریښتونے عاشق د هغې ډیر اِحترام کوي. د ساداتِ کرامو سره د مَحَبَّت حکم خو پهٔ قرآن کریم او حدیثونو کښې دے، لکه چې

## د اھلِ بیتِ نبي سره مَحَبَّت او د ھغوئي تعظیم فرض دے

پۀ 25 سپاره سورۀ الشُّوریٰ آیت نمبر 23 کښې ارشاد دے:

﴿قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِی الْقُرْبٰى﴾ [مفھوم] ترجمہٴ کنزُ العِرفان:

” تۀ ووفرمایه: زۀ پۀ دې باندې ستاسو نه څۀ معاوضه نه غواړم مګر د خپلوی مَحَبَّت۔“

پۀ خزائنُ العِرفان کښې دي چې د حُضُور سَیِّد عالم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مَحَبَّت او د ھغوئي د اَقارب (یعني د خپلوانو) مَحَبَّت د دِین پۀ فرائضو کښې دي- (خزائنُ العرفان، پ 25، الشوریٰ، تحت الآیۃ:23، ص 894)

اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي چې د ساداتِ کرامو تعظیم فرض دے او د ھغوئي توھین [یعني سپکاوے] حرام (دے)- (فتاویٰ رضویہ، 420/22)

## د ” حُسَین“ د څلورو حرفونو پۀ نسبت د ساداتِ کرامو پۀ فضائلو باندې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څلور فرامین

(1) اَدِّبُوْا اَوْلَادَكُمْ عَلٰى ثَلَاثِ خِصَالٍ: حُبِّ نَبِيِّكُمْ، وَحُبِّ اَهْلِ بَيْتِهٖ، وَقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ- یعني خپل اولاد ته درې خبرې وښايئ: د خپل نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مَحَبَّت، د اھلِ بیتو مَحَبَّت او د قرآن تلاوت- (الجامع الصغیر، ص25 ، حدیث: 311)

## د اھلِ بیتو سره د مَحَبَّت صِله

(2) څوک چې زما پۀ اھلِ بیتو کښې د چا سره ښه سلوک وکړي زۀ

به د قیامت پهٔ ورځ د هغې بدله هغهٔ ته عطا کووم- (تاريخ ابن عساکر ، 303/45، حديث: 9884) حضرت علامه عبدُ الرَّءُوف مُناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک پهٔ شرح کښې فرمائي چې دا حديثِ پاک د دې خبرې دليل دے چې د الله پاک خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (د الله پاک پهٔ عطا سره) عطا کوونکے (يعنې ورکوونکے) دے او دا خبره د چا نه څهٔ پټه نه ده، لهٰذا د هٰغه ګَس دې مبارک شي د چا پريشاني چې هغهٔ لرې کړي يا د هغهٔ پهٔ رابللو باندې تشريف راوړي او د هغوئي [يعنې د ساداتِ کرامو] حاجت او ضرورت پوره کړي- (فيض القدير، 223/6، تحت الحديث: 8821)

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت موندلو د پاره

(3) څوک چې وسيله حاصلول غواړي او دا غواړي چې زما پهٔ بارګاه کښې د هغهٔ څهٔ خدمت وي د کوم پهٔ سبب چې د قيامت پهٔ ورځ زهٔ د هغهٔ شفاعت وکړم نو هغهٔ له پکار دي چې زما د اهلِ بيتو خدمت وکړي او هغوئي خوشحاله کړي- (الشرف المؤبد ، ص 54)

## د اهلِ بيتِ اَطهار مَحَبَّت ضروري دے

(4) زما د اهلِ بيتو مَحَبَّت لازمي ونيسئ ځکه چې څوک د الله پاک سره پهٔ دې حال کښې ميلاؤ شي چې هغهٔ زمونږ سره مَحَبَّت کوي نو الله پاک به هغهٔ زما د شفاعت پهٔ سبب جنّت ته داخل کړي او د هغهٔ قَسم د چا پهٔ قبضهٔ قدرت کښې چې زما ځان دے! يو بنده ته به د هغهٔ عمل پهٔ هٰغه حالت کښې

فائده ورکوي چې هغۀ زمونږه (یعنې زما او زما د اهلِ بیتو) حق وپیژني- (معجم اوسط، 606/1، حدیث:2230) عاشقِ صحابۀ و اهلِ بیت امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د نعتونو خپل کتاب ”وسائلِ بخشش“ پۀ صفحه نمبر 513 باندې لیکي:

اَب شَفاعت پَئے اہلِ بیت یا شَفیعَ الورا کیجئے

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## سَیّد چا ته وئیلے شي؟

اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت، مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”سَیّد“ سِبطَینِ کَریمَین (یعنې د حضرت امام حَسَن او حُسَین رَضِيَ اللهُ عَنْهما) اولاد ته وئیلے شي- (فتاویٰ رضویه، 361/13)

د سَیّد لُغوي معنیٰ ”سردار“ ده- پۀ پاک وهند [یعنې پۀ پاکستان او هندوستان] کښې اِصطلاحاً هٰغه حضراتو ته سَیّد وئیلے شي څوک چې د حَسَنَینِ کَریمَین رَضِيَ اللهُ عَنْهما اولاد دے- پۀ عرب ملکونو کښې هر قدرمند کَس ته ”سَیّد“ او د حَسَنَینِ کَریمَین رَضِيَ اللهُ عَنْهما اولاد ته ”شریف حبیب“ وئیلے شي-

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## زما د امامِ حُسَین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره بے حده مینه ده

د عاشقانِ رسول د دیني تنظیم دعوتِ اِسلامي پۀ عالمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه کراچی کښې د محرّم شریف کال 1445 هجری پۀ کیدونکي بیان کښې امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه حاضرین مخاطب کړل او څۀ

داسې یې ووفرمائیل: تاسو ټول ګواه اوسئ چې زما د امامِ عالي مقام، امام حُسَین رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ سره مَحَبَّت دے۔ زما د امام حُسَین رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ سره د هٰغه وخت نه مَحَبَّت دے چې په ماشومتوب کښې به مې د هغوئي نوم مبارک هم په صحیح طريقه نشو اخستے خو هٰغه وخت به هم زما په زړهٔ کښې دا خیال وو چې دا د ډیر لوئي شان او عظمت مالِک دے۔

**اَلْحَمْدُ لِلّٰہ!** زمونږ د ټولو د امامِ عالي مقام، امام حُسَین رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ سره مَحَبَّت دے او د هغوئي سره د نسبت لرونکي هر څیز سره مو مینه ده۔ **اَلْحَمْدُ لِلّٰہ!** زما د سَیّدانو سره مَحَبَّت دے چې دوئي د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اولاد دے۔ په کربلا کښې د حضور نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نمسي حضرت امام حُسَین رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ باندې د شوؤ ظلمونو د بیان اوریدو سره زما هم زړهٔ غواړي چې په چغو چغو وژاړم خو مونږ ته د صبر حکم شوے دے او خو که په بے اختیاری کښې د سترګو نه اوښکې رواني شي نو دا ډیره د سعادت خبره ده۔ (بیان بنام شانِ شہیدِ کربلا، 10 محرم شریف 1445)

عاشقِ صحابه او اهلِ بیت امیرِ اهلِسُنَّت خپل د نعتونو کتاب ” وسائلِ بخشش“ کښې لیکي:

صَحابہ کا گدا ہوں اور اہلِ بیت کا خادِم     یہ سب ہے آپ ہی کی تو عنایت یا رسولَ اللہ

(وسائل بخشش، ص 337)

**صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## ما ته دې یا سَیّدي نه وئیلے کیږي

لکه څنګه چې اوس بیان شول چې د "**سَیّد**" لغوي معنیٰ "**سردار**" ده او د صدو راسې خلق علمائے کرام او مشائخ د "**یا سیّدي یعني اے زمونږ سرداره**" وئیلو سره مخاطب کوي، د عربۍ په مختلفو کتابونو کښې دا کتلے کیدے شي۔ ډیر ځل په مَدَني مذاکرو وغیره کښې عاشقانِ رسول امیرِ اهلِسُنَّت د "**یا سَیّدي**" وئیلو سره مخاطب کوي کوم چې په شرعي طور باندې بالکل جائز دي خو امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه د عاجزۍ له وجهې خپل مَحَبَّت کوونکو ته فرمائي چې ما ته دې "**یا سَیّدي**" نه وئیلے کیږي ځکه چې د دې سره خلقو ته د سَیّد کیدو شک پیدا کیږي خو زه سَیّد نه بلکې "میمن" یم۔ (مدنی مذاکرہ، قسط نمبر: 2261)

## د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه د عمل نه د رڼا اخستو سره

سَیّدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه به د شیرینۍ وغیره څیزونو تقسیمولو په وخت د عامو خلقو په نسبت ساداتِ کرامو ته د آلِ رسول په وجه "ډبل" عطا کول، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه هم دا ښکلې ادا، ادا کوي او ساداتِ کرامو ته که عیدي وي او که څهٔ بَل څهٔ تحفه ډبل عطا کوي، دا نه بلکې هغوئي ساداتِ کرام د ډیر اَدَب په الفاظو مثلاً سرکار، شهزاده، شهزاده عالي وقار، باپوئے آبرودار (یعني د عزت او اِحترام والا) وغیره وئیلو سره رابلي۔ [2]

## د ساداتِ کرامو د اَدَب او اِحترام یو څو اندازونه

---

...[2] اَلحمدُ لِلّٰہ! د دعوتِ اسلامي دِیني کار په ټوله دنیا کښې کیږي او په دنیا کښې د هر ځائے خلق د باپو په مطلب نه پوهیږي، لهذا اوس د "**باپو**" په ځائے د "سَیّد صاحب" وئیلو ترغیب دے ځکه چې دا لفظ ډیر د قدر هم دے او عام انسان هم د دې په مطلب پوهیدے شي۔

دا حقیقت دے چې پهٔ عشقِ رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې امیرِ اهلِسُنَّت د فَنَا فِی الرّسول (3) عظیمې درجے ته رسیّدلے دے او بنده چې د چا سره مَحَبَّت کوي نو د هغهٔ سره د نسبت لرونکي هر څیز سره هم مَحَبَّت کوي. څوک چې د خپل محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د در او دیوال، ښار او مزار سره بے حده عقیدت لري نو هغهٔ به د خپل محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره څومره مَحَبَّت کوي. عاشقِ صحابهٔ او اهلِ بیت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د ساداتِ کرامو ډیر اَدَب او اِحترام کوي او د هغوئي پهٔ موجودگۍ کښې بره کښیناستل نه خوښوي. ډیر ځل لیدلے شوي دي چې ساداتِ کرام د ځان سره پهٔ کُرسۍ بره کښینوي. د هغوئي عمر د عیسوي کال پهٔ لحاظ سره پهٔ جون کال 2024 کښې تقریباً 74 کاله شوے دے او اوس د ضُعفِ پیرۍ (یعنې د بوډا والي د کمزورۍ) پهٔ وجه ورته لاندې کښیناستل گران دي گنې مخکښې چې یې کله داسې د کمزورۍ والا حالت نه وو نو هغوئي به هم لاندې کښیناستل، کله به یې دا هم فرمائیل چې خلق ما پهٔ

---

...[3] د **فَنَا فِی الرّسول تعریف:** حضرتِ امام سراجُ الدّین رَفاعي مَخْذومي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي چې د فنا فی الرّسول مطلب دا دے چې انسان پهٔ ظاهري او باطني طور باندې همیشه د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شریعت خیال وساتي. هر وخت او پهٔ هر کار کښې د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم طریقې ته نظر وکړي. هم سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ خپلو ټولو معاملو کښې وسیله، د ټولو رازونو مرکز او د هر مشکل حل کوونکے وگڼي او دا یقین وساتي چې د الله پاک هر مدد، هر عنایت او هره عطا هم د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ وسیله هر یو ته میلاوېږي. غرض دا چې صرف د خوږ آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خبرې اوري، هم د هغوئي پهٔ تصور کښې ورک وي او هم د هغوئي پهٔ ذریعه الله پاک ته د رسیدو کوشش کوي. (قلادة الجواهر، ص 294 ملخصاً)

مسنَد کښېنوي حالانکې عزت مند ساداتِ کرام لاندې ناست وي، ما ته ښه نه ښکاري چې ساداتِ کرام لاندې تشریف فرما وي او زۀ د هغوئي غلام بره کښېنم۔

عاشقِ صحابهٔ او اهلِ بیت امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ خپل د نعتونو کتاب ''وسائلِ بخشش'' کښې لیکي:

بھیک دے اُلفتِ مصطفٰے کی　　سب صَحابہ کی آلِ عَبا کی
غوث وخواجہ کی احمد رضا کی　　میرے مولٰی تو خیرات دیدے

(وسائلِ بخشش، ص 128)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ساداتِ کرام وړاندې تشریف راوړئ

د عربی مُحاوره ده چې ''اِنَّمَا یَعْرِفُ ذَا الْفَضْلِ ذَوُوْهٗ'' یعنې فضیلت لرونکي هم صرف فضیلت والا پیژني۔ د ساداتِ کرامو د اَدَب او اِحترام په لحاظ سره د عربی دا محاوره د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ په ذات باندې بالکل صادِق په نظر راځي۔ امیرِ اهلِسُنَّت د آلِ رسول ډیر زیات عزت کوي، هغوئي فرمائي: اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! د ساداتِ کرامو مَحَبَّت زما په ګوتې کښې شامل دے یواځې هغوئي پخپله نهٔ بلکې ډیر ځل نورو خلقو ته هم د ساداتِ کرامو د عظیم الشانې مرتبے په تبلیغ کولو په نظر راځي لکه څنګه چې به د عاشقانِ رسول د دیني تنظیم دعوتِ اِسلامي په کومو ورځو کښې بین الاقوامي د سنتو ډکه اجتماع په ملتان شریف کښې کیدله، هم

داسې به د ملک په مختلفو ښارونو کښې په صوبائي اجتماعاتو کښې ډیر ځل هغوئي د دُعا نه مخکښې داسې اعلان فرمائیلو چې **"په دې اجتماع کښې څومره هم ساداتِ کرام موجود دي، مهرباني وکړئ! وړاندې تشریف راوړئ د پاره د دې چې د هغوئي په برکت زمونږه دعاګانې قبولې شي۔"**

## د ساداتِ کرامو په مبارکو لاسونو باندې د دعوتِ اِسلامي د ټولو نه د وړومبي فیضانِ مدینه بنیادي تیګه

د دعوتِ اِسلامي د مرکزي مجلسِ شوریٰ رُکن حاجي محمد علي عطاري مُدَّظِلُّه العَالی فرمائي چې په دعوتِ اِسلامي والؤ کښې د ساداتِ کرامو د اَدَب او اِحترام انداز د امیرِ اهلِسُنَّت د تربیت حصه ده، اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! زۀ په کال 1989ء کښې د دعوتِ اِسلامي دیني ماحول ته راغلم۔ د امیرِ اهلِسُنَّت د ساداتِ کرامو د عزت انداز د ټولو نه وړاندې زما په مخکښې داسې ظاهر شو چې د پاکستان په مشهور ښار حیدر آباد کښې په کال 1989 یا 1990 کښې د دعوتِ اِسلامي د مَدَني مرکز د پاره ځائے واخستے شو۔ هغه وخت دا په دنیا کښې د ټولو نه وړومبے د دعوتِ اِسلامي مَدَني مرکز په نوم د **"فیضانِ مدینه"** جوړیدو۔ د خوشحالۍ په هغه موقع باندې د عظیم الشاني اجتماع سلسله کیښودے شوه او اعلان وشو چې د مَدَني مرکز د اِفتتِاح (یعني د بنیادي تیګې کیښودو) او د باقاعده د ودانۍ د کار شروع کولو د پاره به د کراچۍ نه امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د حاجي مشتاق عطّاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (د دعوتِ اِسلامي د مرکزي مجلس شوریٰ مرحوم نګران) سره تشریف راوړي۔ د سنتو ډکې اجتماع نه پس چې کله د بنیادي تیګې کیښودو وخت راغلے نو په هغه ځائے کښې زۀ هم موجود ووم، اِسلامي

ورونږو د امیرِ اهلِسُنَّت په خدمت کښې په خپلو لاسونو د افتتاح کولو عرض وکړو نو هغوئي ډیر په عاجزی او انکساری ووفرمائیل چې دا د دعوتِ اِسلامي د ټولو نه وړومبے مَدَني مرکز دے، زۀ چرته د دې جوګه یم چې د دې بنیادي تیګه کیږدم، د دعوتِ اِسلامي ذِمه دارانو ډیر اصرار وکړو خو هغوئي منع کول آخر هغوئي ارشاد ووفرمائیلو چې د دولسم شریف په نسبت دې د دولسو کم عمره سَیّدانو مبارکو په لاسونو باندې بنیادي تیګه کیښودے شي۔ د شپې په هٰغه وخت چې څومره ساداتِ کرام میلاؤ شول د هغوئي په برکتي لاسونو د دعوتِ اِسلامي د ټولو نه د وړومبي مَدَني مرکز " **فیضانِ مدینه**" بنیادي تیګه کیښودے شوه۔

## د عالَمي مَدَني مرکز بنیادي تیګه

د دعوتِ اِسلامي د عظیمُ الشّان عالمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه (کراچی) چې کله د پرانستے دستوره وه نو په هغې کښې هم په 12 ساداتِ کرامو باندې بنیادي تیګه کیښودے شوه۔

نور دا چې فیضانِ مدینه ته د داخلیدو یو څو دروازے دي په کومو کښې چې د یوې دروازے نوم "**بابِ فاطمه**" کیښودے شو۔

## صحابه او اهلِ بیتِ اَطهار عَلیهمُ الرّضوَان

صحابه او اهلِ بیتِ اَطهار عَلیهمُ الرّضوَان د اُمَّت د پاره د نجات او سلامتی ذریعه ده لکه څنګه چې د حسنینو نیکه بابا جان زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: مَثَلُ اَهْلِ بَيْتِیْ مَثَلُ سَفِیْنَةِ نُوْحٍ مَّنْ رَّكِبَهَا نَجَا، وَمَنْ تَخَلَّفَ عَنْهَا غَرِقَ یعنې زما د اهلِ بیتو مثال د نوح د کشتی په شان دے،

ځوک چې پهٔ دې کښې کښیناستو نجات یې حاصل کړو او ځوک چې د دې نه وروستو پاتې شو هلاک (یعنې برباد) شو- (مستدرک ، 81/3، حدیث:3365)
پهٔ یو بَل حدیثِ پاک کښې زما آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد ووفرمائیلو: زما صحابه زما د اُمَّت د پاره اَمان دے، چې کله دوئي د دې دُنیا نه رخصت شي نو زما پهٔ اُمَّت باندې به هٰغه وخت راشي د کوم چې د هغوئي سره وعده شوې ده- (مسلم ، ص 1051، حدیث:6466) عاشقِ صحابهٔ او اهلِ بیت امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ خپل د نعتونو کتاب "وسائلِ بخشش" کښې لیکي:

قلب میں عشقِ آل رکھا ہے خوب اِس کو سنبھال رکھا ہے
کیوں جہنّم میں جاؤں سینے میں عشقِ اَصحاب و آل رکھا ہے

(وسائل بخشش ص 443، 444)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د سَیّد صاحب پهٔ لور ښپې مهٔ غزوئ (واقعه)

د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ سره پهٔ کال 2019 کښې یو ځو عاشقانِ رسول د حج پهٔ مبارک سفر باندې روان شول- د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ عمر هٰغه وخت تقریباً 69 کاله وو، هغوئي پهٔ 8 ذي الحج شریف د مِنیٰ شریف پهٔ خیمه کښې وو چې هغوئي ته د سترې والي له وجهې د ښپو غزولو ضرورت راپیښ شو خو د هغوئي مخې اړخ ته یو "سَیّد صاحب" تشریف فرما وو- هغوئي دې تحریر لیکونکي ته یوه چیټۍ ورکړله پهٔ کومه کښې چې د سَیّد صاحب پهٔ لور تعظیماً د خپلو ښپو نهٔ

غزولو هم ذِکر وو۔ غرض دا چې " **تر څو پورې سَیّد صاحب هغه اړخ ته ناست وو امیر اهلِسُنَّت هغه اړخ ته خپلې ښپې نکړې۔**"

## د ساداتِ کرامو سره د عقیدت ښکلے انداز

**سُبْحٰنَ الله!** که یو خوا امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د ساداتِ کرامو پهٔ لور ښپے غزول د اَدَب خلاف ګڼي نو بل خوا که هغوئي ته د ملاقات پهٔ وخت ووئیلے شي چې دا "**سَیّد صاحب**" دے نو هغوئي بے اختیاره د هغوئي لاسونه ښکلوي۔ د ساداتِ کرامو د وړو ماشومانو د خوړو حقیقي مَدَني ماشومانو سره ډیر د مَحَبَّت او شفقت اظهار داسې هم کوي چې د هغوئي وړې وړې ښکلې ښپې پهٔ خپل سر باندې کیږدي۔

## د امیرِ اهلِسُنَّت پهٔ خاندان کښې د اهلِ بیتو یاد

د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د مرحومو دریو واړو خوئیندو نومونه د اهلِ بیتِ اَطهار پهٔ مبارکو نومونو باندې دي۔ لکه د مشرې خور نوم یې "**خدیجه بائي**" [(4)] د هغې نه د کشرې خور نوم یې "**فاطمه بائي**" او د ټولو نه د کشرې خور نوم یې "**زهره بائي**" دے۔

## د عطّار د لور داج

د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د یوائځنۍ لور چې کله د واده موقع راغله، که امیرِ اهلِسُنَّت غوښتلے نو د هغوئي سره مَحَبَّت کوونکو به د

---

[4] ... بائي پهٔ میمنۍ ژبه کښې د تعظیم لفظ دے لکه څنګه چې د نارینؤ د پاره بهائي (یعنې ورور) دے۔

قیمتي نه د قیمتي داج ډیري جوړ کړي وو خو د ربنتوني عاشقِ صحابه او اهلِ بیت امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَه پۀ زړۀ او ذهن کښې د الله پاک د خوږ آخري نبي، مَکّي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شهزادګۍ، حضرت بي بي فاطمةُ الزهرا رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا داج پروت وو۔ هغوئي هم د خپلې یواځنۍ لور واده پۀ سادګۍ او عین د سُنَّت مطابق د کولو کوشش وکړو۔ د داج ورکولو پۀ وخت هم امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَه تر خپله وَسه پورې کوشش وکړو او پۀ کتابونو کښې یې د لوستلو سره د هٰغه داج انتظام وکړو کوم چې د حسنینو کریمینو نیکه بابا جان صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حسنینو کریمینو مور، د کونینو شهزادګۍ، سَیِّده، طیّبه، طاهِره، حضرت بي بي فاطمةُ الزهرا رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا ته عطا کړے وو۔ پۀ دې زمانه کښې د زیات داج اخستو او ورکولو کوشش کوونکو د پاره پۀ دې واقعه کښې د سبق بهترینه نمونه ده۔ داج دا وو: (1) د سپینو زرو بازو بند [یعنې لاس ته د اچولو کالے] (2) چټائي (3) میچن (4) مَشک (5) د خاورو لوښي (6) د څرمنې تکیه وغیره۔

## د ساداتِ کرامو پۀ بارګاه کښې 25 لاکهه روپۍ نذرانه

که د خوشحالۍ موقع وي او که د غم، که ګراني وي او که پۀ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د غریبانانو خیر خواهي، امیرِ اهلِسُنَّت پۀ هره موقع باندې د ساداتِ کرامو سره ښه سلوک او خیر خواهي او همدردي کوي بلکې ډیر

ځل پهٔ مَدَني مذاکرو کښې ډاکټرانو ته د ساداتِ کرامو د مفت عِلاج کولو، میډیکل سټور والؤ ته د مفت دوایانو ورکولو ترغیب ورکوي۔

پهٔ کال 1444 هجری کښې چا امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه ته د مرکزي مجلسِ شوریٰ د یو رُکن پهٔ ذریعه د ځان سره د یو بَل اِسلامي ورور حج له د بوتللو د خرچې (تقریباً د 25 لاکهه روپو) ورکولو پیغام راولیږلو۔ هغوئي پهٔ هٰغه کال پهٔ څهٔ وجه حج له نه وو تلي، هغوئي فوراً د هٰغه ذِمه دار پهٔ ذریعه رقم ورکوونکي ته پیغام ولیږلو چې دا 25 لاکهه روپۍ پهٔ ساداتِ کرامو تقسیم کړئ او بیا هٰغه ټول رقم د ساداتِ کرامو پهٔ خدمت کښې نذرانه کړے شو۔

## د 12 ساداتِ کرامو د کورَنو د خدمت اعلان

امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه پهٔ خپل ملک کښې د کال 2024/2023 پهٔ ډیره ګرانۍ کښې پهٔ ربیع الاوّل شریف کال 1445 هجری کښې اعلان وکړو چې شته مند (یعني مالداران) خلق دې که کیدے شي نو د 12 ساداتِ کرامو کورَنو ته دې کم از کم تر 12 میاشتو پورې 12، 12 زره روپۍ نذرانه ورکړي یا دې ورله د کور راشن وغیره ورکوي۔ د عاشقِ صحابه او اهلِ بیت امیرِ اهلِسُنَّت پهٔ دې اعلان باندې زر تر زره د عاشقانِ صحابه او اهلِ بیت ښه ښه نیتونه د مَدَني چینل کال سینټر ته موصول شول او هغه Live پهٔ مَدَني مذاکره کښې واورولے شول۔ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ

بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ساداتِ کرامو د خدمت پهٔ بابله پهٔ خپله رساله فيضانِ اهلِ بيت کښې څهٔ داسې ليکي:

## د عطّار خواست

اے مالدارانو! دکاندارانو! ډاکټرانو! د خپل خپل وَس مطابق د آلِ رسول (يعني د ساداتِ کرامو) خِدمت وکړئ او د دوئي د نيکه بابا جان رحمتِ عالميان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک زړهٔ ته راحت ورسوئ او د جنّت پهٔ باغ کښې د کور مونډلو ذريعه جوړه کړئ. څومره به ښه وي چې هر يو دکاندار دا ذهن جوړ کړي چې هغهٔ به ساداتِ کرامو ته سودا مفت يا کم از کم No profit no loss يعني پهٔ اخستلے شوي نرخ ورکوي [يعني ګټه به ترينه نه کوي]. يقيناً چې پهٔ دې طريقه به هم د هغوئي سره ډيره همدردي او خير خواهي وشي.

کاش چې هر يو ډاکټر دا ذهن جوړ کړي چې زهٔ به د سَيِّدانو "چيک اَپ [يعني معائينه] " فري کووم بلکې که کيدے شي نو دوايانې به هم فري ورکووم او د آلِ رسول زړونه به خوشحالووم. د رَمَضَانُ المُبَارَک پهٔ بزرګه مياشت کښې پهٔ ګاؤنډ کښې اوسَيِّدونکو ساداتِ کرامو تر دې چې پهٔ پيشمني او روژه ماتي، د قربانۍ پهٔ ورځو کښې پهٔ کور کښې پخيدونکو خوندورو خوراکونو کښې څهٔ نا څهٔ د هغوئي کور ته پهٔ اَدَب او پهٔ اِحترام سره ليږئ، څومره ناداني ده چې د چا د نيکه بابا جان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې مونږه صدقه خورو د هغوئي نمسي زمونږه د سهولتونو ډک ژوند نه هيڅ

فائده هم وانخلي۔ نن خپل مال، خپل دولت، د خپلې خوښې څيزونه د ساداتِ کرامو په ښپو کښې قربان کړئ، بيا وګورئ چې د هغوئي نيکه بابا جان رحمتِ عالميان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سبا د قيامت په ورځ تاسو څنګه مالا مال فرمائي، په خدائے مې دې قسم وي چې هٰغه وخت چې نه به مال په کار راځي او نۀ به څۀ عهده او منصب د عذابو نه بچ کولے شي، هٰغه وخت به د ناقلاره زړونو د قرار، د حسنينو کريمينو د نيکه بابا جان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت په کار راځي۔ که په دُنيا کښې مو د هغوئي د اولاد سره ښه سلوک کړے وي، د يو بيمار سَيِّد زاده مو مفت علاج کړے وي نو څۀ پته لګي چې هم دغه شهزاده د خپل نيکه بابا جان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې عرض وکړي او زمونږ د پاره د شفاعت ذريعه جوړه شي۔ خو صرف د الله پاک د رضا په نيت سره خدمت کوئ، باقي پاتې د هغوئي کَرم هيڅ حد او انتها نه لري۔ هيڅکله هم خپل زړۀ له دا وسوسه مۀ راولئ چې پته نه لګي چې دا سَيِّد دے هم او که نۀ؟ مونږ ته د دې خبرې بالکل اجازت نشته چې مونږ د نسب په لټون کښې ګرځو، بس زمونږ د پاره د هغوئي د سَيِّد په طور مشهوريدل هم کافي دي۔

## د پيغامونو په ريکارډنګ کښې د ساداتِ کرامو نه ابتدا

امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه د ثواب حاصلولو، د غمژن اُمَّت د غمخورۍ او خير خواهۍ په ښو ښو نيتونو روزانه د ډيرو عاشقان صحابه او اهلِ بيتو د واټس ايپ په ذريعه ټيوس او لاس نيوه کوي۔ ډير ځل ټوله

شپه د مختلفو ديني مصروفياتو او د ستړي والي باوجود هغوئي د نیکۍ د دعوت د دې عظيم کار درد په سينه کښې ساتي او په دې کښې چهټي نه کوي۔

اوسه پورې ( 14جون 2024) روزانه اوسطاً 100 پيغامونه ريکارډ کوي۔ هغوئي فرمائي چې ما ته د دعاګانو د پاره ډېر نومونه راځي خو زما کوشش وي چې د ساداتِ کرامو د نوم نه خپل دا نیک کار شروع کړم او بیا چې د چا سَیّد صاحب نوم میلاؤ شي نو هم د هغوئي د نوم نه د پيغامونو ريکارډنګ شروع کووم۔ (مدنی مذاکره، 26 اکتوبر 2023 ، قسط نمبر :2275)

## 34 کاله مخکښينے وَصِیّت

په مُحرَّم شريف کال 1411 هجرى مطابق کال 1990ء کښې عين د شين ګنبد شريف مخې ته امیرِ اھلِسُنَّت کښيناستو او خپله وصيت نامه يې وليکله۔ کومه چې د "**مَدَنی وَصِیَّت نامہ**" په نوم مکتبة المدينه چاپ کړې ده۔ [5] په دې کښې هغوئي خپل مختلف وصيتونه ليکلي دي۔

## په آخري وخت کښې هم د ساداتِ کرامو نه د برکتونو اخستو ذِهن

د مَدَني وَصِیَّت نامه په صفحه نمبر 4 باندې په وصيت نمبر 9 کښې ارشاد فرمائي چې کفن که د زم زم په اوبو يا د مدينے په اوبو بلکې که په

[5]... د دې رسالې د لوستلو د پاره د دعوتِ إسلامي ويب سائټ www.dawateislami.net ته لاړ شئ يا دا QR Code سکين کړئ او په ښو نيتونو سره يې د نورو خلقو سره هم شيئر کړئ۔

دواړو لوند وي نو سعادت دے۔ کاش چې ځوک سَیّد صاحب مې پهٔ سر باندې عمامه شریف وتړي۔

پهٔ وَصِیَّت نمبر 18 کښې ارشاد فرمائي چې جنازه که مې ځوک صحیحُ العقیده سُنّي با عمله عالِم یا ځوک د سُنَّتو پابند اِسلامي وررور یا که اَهل وي نو پهٔ اولاد کښې ځوک وکړي خو خواهش دے چې ساداتِ کرامو ته دې فوقیت ورکړے شي۔

پهٔ وَصِیَّت نمبر 19 کښې ارشاد فرمائي چې ځومره به ښه وي چې ساداتِ کرام مې پهٔ خپلو لاسونو باندې قبر ته کوز کړي او اَرحَمُ الرّٰحِمِین ته مې وسپاري۔ (مدنی وصیت نامہ، ص 4 تا 5 بتغیر)

## د نوې آستانه عالیه اِفتِتاح

پهٔ محرم شریف کال 1445 هجری کښې امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه د خپل وړومبي کور نه بَل کور ته لاړو، نوي کور ته د تللو معامله هم ډیره د ذوق نه ډکه وه۔ یو څو ساداتِ کرامو ته کور ته د تشریف راوړلو دعوت ورکړے شو او بیا یې پهٔ خپلو دواړو لاسونو کښې د ساداتِ کرامو لاس کېښودو او د قصیدهٔ بُرده شریف لوستلو سره نوي کور ته داخل شو۔ کور ته چې داخل شو نو پهٔ ژړا کښې یې څهٔ داسې ووفرمائیل: نوي کور ته د ساداتِ کرامو سره پهٔ دې وجه راغلم چې پهٔ قبر کښې مې هم ساداتِ کرام پهٔ خپلو لاسونو باندې "**اَرحَمُ الرّٰحِمِین**" ته وسپاري۔


www.dawateislami.net

## د دعوتِ اِسلامي پهٔ دِيني کارونو کښې د اهلِ بيتو ياد

د دعوتِ اِسلامي دوه ډير اهم دِيني کارونه دي: (1) د فتنو پهٔ دې دور کښې د نيکۍ پهٔ لاره باندې د روانولو او د ځان د محاسبې کولو د پاره "پهٔ 72 نيک اعمال باندې عمل کول" [6] او (2) پهٔ هره مياشت کښې کم از کم درې ورځې پهٔ مَدَني قافله کښې سفر کول۔

چې لږ غور وکړئ نو تاسو ته به پهٔ دې دواړو اهمو دِيني کارونو کښې هم د اهلِ بيتو ياد پهٔ نظر راشي۔ بلکې پهٔ يو کښې خو بالکل ښکاره دي چې د اِسلامي ورونو د نيکو اعمالو د رسالې نوم هم د رفقائے کربلا پهٔ نسبت سره 72 نيک اعمال دے۔ د بَل اهم ترين ديني کار هره مياشت د دريو ورځو د مَدَني قافلې معيار 72 ګينټې کيښودے شو۔ لکه چې باني دعوتِ اِسلامي اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُہُمُ الۡعَالِيَه خپل هر يو مبلغ، معلم، مُريد او فالوور ته د اهلِ بيتو عَلَيهِمُ الرِّضوَان پهٔ يادونو، د هغوئي پهٔ خيالونو کښې د اوسيّدو درس ورکوي۔

## د اهلِ بيتو پهٔ شان کښې د اميرِ اهلِسُنَّت بيانونه

د اِسلامي دُنيا په سل فيصده اِسلامي چينل "**مَدَني چينل**" باندې ډير پروګرامونه د اهلِ بيتِ اَطهار (عَلَيهِمُ الرِّضوَان) د شان پهٔ باره کښې شوي

---

[6] ... د "72 نيک اعمال" رسالې د پاره روزانه وخت مقرر کړئ او جائزه اخلئ او د هرې مياشتې پهٔ وړومبي تاريخ دا رساله د خپلې علاقې د ذمه دار سره جمع کړئ۔ د اِسلامي خوئيندو، طالبِ علمانو، ماشومانو او خصوصي ګسانو وغيره د پاره د نيک اعمال بيلې بيلې رسالې جوړې کړے شوې دي۔ د دې د لوستلو د پاره د دعوتِ اِسلامي ويب سائټ www.dawateislami.net ته لاړ شئ او د ښو ښو نيتونو سره يې د نورو سره هم شيئر کړئ۔

دي۔ د مَدَني چینل په کال 2008 کښې د شروع کیدو نه مخکښې چې به کله د آډیو بیانونو سلسله وه نو هٰغه وخت امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په ولاړه درې درې ګینټې د اهلِ بیتِ اَطهار شان او عظمت بیان کړے دے۔ په هغې کښې د یو څو بیانونو نومونه دا دي: شانِ اہلِ بیت، شہادت کا بیان، کربلا کا خونیں منظر، کربلاکاتاراج کارواں وغیره۔

هغوئي څو څو ځل په خپلو بیانونو او لیکلو کښې چې د قرآن پاک د کوم مفسر تفسیر بیان کړے دے هغۀ هم د یو **"سَیّد بزرګ"** دے، د هغوئي نوم حضرت علامه مولانا سیّد محمد نعیم الدین مراد آبادي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه دے۔ کله نا کله چې څوک سیّد زاده ووینې نو د امامِ اهلِسُنَّت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه دا شعر په خوشحالۍ سره وائي:

تیری نسلِ پاک میں ہے بچہ بچہ نور کا　　تُو ہے عینِ نور تیرا سب گھرانا نور کا

(حدائقِ بخشش، ص 248)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!　صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د اهلِ بیتِ اَطهار په شان باندې د امیرِ اهلِسُنَّت 6 کتابونه

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه تر اوسه پورې (ذی الحج شریف 1445 ہجری) تقریباً په 244 صفحو باندې د اهلِ بیتِ اطهار په شان او عظمت باندې د مختلفو موضوعاتو سره کتابونه او رسالې لیکلې دي د کومو نومونه چې دا دي: (1) د اهلِ بیتِ اطهار په شان او عظمت باندې 40 حدیثونه مبارک **"فیضانِ اہلِ بیت"** (37 صفحات) (2) د مسلمانانو د خلورم

خلیفه مولائے کائنات حضرت علي المرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ شان او کراماتو باندې مشتمله رساله ”کراماتِ شیرِ خدا“ (98 صفحات) (3) د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نمسي حضرت امام حَسَن مُجتَبیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ سیرت باندې رساله ”امام حسن رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کی 30 حکایات“ (28 صفحات) (4، 5، 6) د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نمسي، د حضرت فاطمه طیبه طاهره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا د زړهٔ د ټوټې، د امامِ عالی مقام، امامِ عرش مقام، حضرتِ امام حُسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ بے مثاله سربازی او بهادری، د دې سره سره د کربلا شریف پهٔ مختلفو واقعاتو باندې مشتملې درې رسالې پهٔ نوم: (1) امامِ حُسین کی کرامات (41 صفحات) (2) حُسینی دُولہا (16 صفحات) (3) کربلا کا خُونیں منظر (24 صفحات)، د دې نه علاوه پهٔ نورو ډیرو کتابونو کښې ضِمنًا ډیر واقعات، کرامات او د اهلِ بیتِ اَطهار پهٔ باره کښې روایتونه موجود دي. [1] دا رسالې د مکتبة المدینه نه هدیةً حاصلیدے شي.

[1] ... د دې رسالو د لوستلو د پاره دا QR Code سکین کړئ:








## د اهلِ بیتِ اَطهار پهٔ شان باندې د امیرِ اهلِسُنَّت 154 شعرونه

**اَلْحَمْدُ لِلّٰہ!** امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه تر اوسه پورې پهٔ (8 ذی الحج شریف 1445 ہجری) د مسلمانانو د څلورم خلیفه حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللہُ عَنْهُ، د حضرت بي بي فاطمةُ الـزهرا رَضِیَ اللہُ عَنْها، پهٔ حسنینِ کریمینو حضرت امام حَسَن او امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْهما او د اهلِ بیتِ اَطهار پهٔ شان کښې 8 مناقب لیکلي دي۔ کوم چې پهٔ وسائلِ بخشش او وسائلِ فردوس کښې لوستلے او کتلے کیدے شي۔ پهٔ 17 شعرونو باندې مشتمل منقبتِ اهلِ بیت "**کیوں نہ ہو رُتبہ بڑا اصحاب و اہلِ بیت کا**"، پهٔ 23 شعرونو باندې مشتمل منقبتِ مولیٰ علی "**یا علیَّ المُرتضیٰ مولیٰ علی مشکل کشا**"، پهٔ 17 شعرونو باندې مشتمل منقبتِ حضرت بي بي فاطمةُ الـزهرا رَضِیَ اللہُ عَنْها "**آپ پر اللہ کی رحمت ہو حضرت فاطمہ**" [7] د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نمسي حضرت امام حَسَن مُجتَبیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْهُ د ولادت (پیدائش) د 15 رَمَضَانُ المُبَارَک پهٔ مناسبت سره د 15 شعرونو منقبتِ امام حَسَن "**یا حَسَن ابنِ علی کردو کرم**" د امامِ عالي مقام، امام عرش مقام، امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْهُ سره د بے حده مَحَبَّت پهٔ سبب د هغوئي پهٔ شان او عظمت باندې څلور کلامونه، درې مناقِب او یو سلام یې لیکلے دے۔ پهٔ 33 شعرونو باندې مُشتمِل مَنْقَبَت"**یا شہیدِ کربلا فریاد ہے**"، پهٔ 19 شعرونو باندې

---

[7] ... د حضرت بي بي فاطمه رضی اللہُ عنہا او د امام حسین رضی اللہُ عنہ د منقبت "**تقدیر سے ملی ہے محبت حسین کی**" لا چاپ شوے نه دے البته د دعوتِ اِسلامي پهٔ یوټیوب چینل باندې دا کتلے کیدے او اوریدے شي۔

مشتمل منقبت " پھر ملا کربلا، یاشہِ کربلا"، پهٔ 12 شعرونو باندې مشتمل منقبت " تقدیر سے ملی ہے محبّت حُسین کی" او پهٔ 18 شعرونو باندې مشتمل سلام "کربلا کے جاں نثاروں کوسلام " يې لیکلې دي۔

## د اھلِ بیتِ اَطھار پهٔ شان باندې د امیرِ اھلِسُنَّت 88 نعرې

**اَلْحَمْدُ لِلّٰہ!** امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ تر اوسه پورې (8 ذی الحج شریف 1445ہجری) د مسلمانانو د څلورم خلیفه حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ، د حضرت بي بي فاطمهٔ الزھرا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا ، د حسنینِ کریمینو حضرت امام حَسَن او حضرت امام حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما او د اھلِ بیتِ اَطھار پهٔ شان کښې 88 نعرې لیکلې دي۔ د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ شان کښې 18 نعرې "عاشقِ مصطفٰے، مرتضٰی، مرتضٰی" د حضرت بي بي فاطمهٔ الزھرا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا پهٔ شان کښې 15 نعرې "دُخترِ مصطفٰی ، سیّدہ فاطمہ" د امام حَسَن رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ شان کښې 16 نعرې "صاحبُ الاِتِّقا، ہیں حسن مجتبیٰ" د حضرتِ امام حُسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ شان کښې 22 نعرې "نواسۂ مصطفٰی، یا شہیدِ کربلا" او د امام جعفر صادق رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پهٔ شان کښې يې 17 نعرې "کرم سے ہم پہ،امام جعفر" لیکلې دي۔

## د "فیضانِ علي" جوماتونو جوړول

امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ پهٔ 21 رَمَضَانُ المُبَارَک 1439 ھجری (6 کاله مخکښې) د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د شھادت د ورځې پهٔ موقع باندې د مسلمانانو د څلورم خلیفه، امیرُ المُؤمِنِین حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ یاد کښې پهٔ ټوله دنیا کښې د 2121 جوماتونو جوړولو ترغیب ورکړو۔

(ماہنامہ فیضانِ مدینہ، ذوالقعدہ شریف 1439 مطابق اگست 2018، ص 53)

د دعوتِ اِسلامي د شعبے ”خُدَّامُ المَساجِد وَ المَدَارِس“ د ذمه دار نه د حاصل کړے شوو معلوماتو مطابق اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! تر اوسه پورې 121 جوماتونه پهٔ مبارکو نومونو ”**فيضانِ علی** “، **فيضانِ حيدر، فيضانِ مشکل کُشا، فيضانِ حَسَن، فيضانِ حُسين، فيضانِ فاطِمه، فيضانِ علی اکبر، فيضانِ علي اصغر**“ جوړ شوي دي۔

## پهٔ بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې د حاضرۍ انداز

امیرِ اهلِسُنَّت چې کله 16 کاله پس پهٔ کال 2018ء کښې حج له تشريف يوړلو او چې کله پهٔ بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې د حاضرۍ خوندور وخت راغلو نو هغوئي د مدينے منورې پهٔ عشق کښې ډوب شول او د ساداتِ کرامو سره يې د خپلې مينې او مَحَبَّت نه ډکو جذبو اظهار څهٔ پهٔ دې شان وکړو چې پهٔ بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې د حاضرۍ د پاره د روانيدو وخت دے، کاش چې څوک داسې سَيِّد زاده تيار شي څوک چې زما پهٔ غاړه کښې رسۍ واچوي او پهٔ راښکلو مې بوځي چې آقا تښتيدلے مجرم مې نيولے او راوستے دے، تاسو د دهٔ شفاعت ووفرمايئ او دا معاف کړئ او پهٔ جنَّت الفردوس کښې دهٔ ته پهٔ خپل ګاوَنډ کښې ځائے عطا کړئ۔

## هر کال يوه قرباني

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي چې د فقير (يعنې د اعلیٰ حضرت) دا معمول دے چې هر کال يوه قرباني د

حضورِ اقدس سَیِّد المُرسَلِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اړخ نه کوي او د هغې ټوله غوښه او څرمن ساداتِ کرامو ته نذرانه کوي- (فتاوی رضویه، 20/ 456)

## د امیرِ اھلِسُنَّت د اهلِ بیتِ اَطهار سره د مَحَبَّت مختلف اندازونه

د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ پهٔ ترغیب باندې د هغوئي له خوا هر کال د قربانۍ پهٔ ورځو کښې یواځې یو څو ساداتِ کرامو ته د قربانۍ څاروي د تحفې پهٔ طور نهٔ ورکړے کیږي بلکې د څاروو د خوراک او د ذبح کولو وغیره خرچ هم نذرانه کولے شي- د یو څو کالو نه جاري پهٔ دې نیک عمل کښې تر اوسه پورې ډیر څاروي د کومو رقم چې لکونه روپۍ جوړیږي د ساداتِ کرامو پهٔ خدمت کښې وړاندې کړے شوي دي- وَلِلّٰہِ الۡحَمۡد

## د عطاري پهٔ ختّه کښې غداري نشته

امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ فرمائي: **اَلْحَمْدُ لِلّٰہ!** زهٔ چې د کله نه پهٔ ښه بد پوهه شوے یم نو پهٔ خپل زړهٔ کښې مې د خوږ محبوبِ کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مَحَبَّت چینې محسوس کړې دي- پهٔ ما غوثِ پاک شیخ عبدُ القادر جیلاني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ د عشقِ رسول جام وڅښلو، زما اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ وڅښلو- **اَلْحَمْدُ لِلّٰہ!** پهٔ ما باندې دا خصوصي فیضان دے چې زما د مدینے د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره، د انبیائے کرامو عَلَیۡہِمُ السَّلَام سره، د ټولو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم سره، د ټولو اهلِ بیتِ اَطهار خصوصاً د کربلا د شهیدانو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم سره ډیر مَحَبَّت دے- د الله پاک پهٔ رحمت سره د

ساداتِ کرامو اِحترام پهٔ خپل هر رګ کښې بیاموم او زهٔ طمع لرم چې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! څوک چې زما پهٔ ذریعه د غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه مُرید جوړ شي، عطاري جوړ شي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! هغهٔ به کله هم، کله هم، کله هم د خوړ. آقا مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ، د ټولو انبیائے کرامو عَلَیۡهِمُ السَّلَام ، د ټولو اهلِ بیتِ اَطهار پهٔ شمول د مولا مشل کُشا علیٌّ المرتضیٰ، شیرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ، حَسَنین کریمَین رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم، ټولو صحابهٔ کرامو پهٔ شمول د حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم ، د دې پاکو هستیانو سره غداري نشي کولے بلکې څوک چې د بل چا پهٔ جامعو شرائطو د پوره شیخ مُرید وي او زما پهٔ سلسله کښې طالب وي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! هغهٔ به هم چرې هم د دې پاکو هستیانو باغي نه جوړیږي- (ماہنامہ فیضانِ مدینہ ذوالقعدۃ الحرام 1439)

## د ساداتِ کرامو د پاره خصوصي پیغام

پهٔ یوه موقع باندې چې کله هغوئي د یو څو ساداتِ کرامو له خوا د څهٔ پریشانو نه خبر شو نو څهٔ پهٔ دې انداز یې هغوئي ته جوابي پیغام ولیږلو او ډاډګیرنه یې ورکړله:

نَحۡمَدُہٗ وَنُصَلِّیۡ وَنُسَلِّمُ عَلٰی رَسُوۡلِهِ النَّبِیِّ الۡکَرِیۡم

د سګِ مدینه محمد الیاس عطّار قادري رضوي عُفِيَ عنه له خوا د ساداتِ کرامو پهٔ خدمت کښې: اَلسَّلَامُ عَلَیۡکُمۡ وَرَحۡمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهٗ

الله کریم دې ستاسو د صاحبانو اِقبال اوچت کړي، پریشانۍ مو دې هم ختمې کړې، د کربلا والؤ پهٔ وسیله دې تاسو ته صبر هم عطا کړي-

تاسو واقعي ده چې په داسې ازمېښت او امتحان کښې راګير يئ چې اَلاَمَان وَالحَفِيظ الله پاک دې په تاسو ټولو باندې رحم وکړي او تاسو ټولو ته دې د کربلا والؤ د صبر حصه عطا کړي۔ اٰمِين۔ همت وکړئ! صبر وکړئ! الله پاک دې ستاسو په رزق کښې برکت واچوي او د افتونو او مصيبتونو نه مو دې محفوظ کړي۔ انبيائے کرامو عليهِمُ السّلام ته هم پريشانی راغلې، ستاسو په نيکه بابا جان رحمتِ عالميان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې چې هم سخت امتحان راغلو نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صبر وکړو۔ په کربلا والؤ باندې څومره سخت امتحانونه راغلل، هغوئي صبر وکړو۔ تاسو حضرات هم صبر وکړئ۔ الله کريم دې تاسو ته صبر او همت عطا کړي، تاسو ټول دې بے حسابه اوبخښي او ستاسو په وسيله دې ما ګنهګار هم بے حسابه اوبخښي۔ ستاسو د نيکه بابا جان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤند دې تاسو ټولو ته هم او ستاسو د ټولو په وسيله زما هم نصيب کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په مرکزي مَجلِسِ شوریٰ کښې ساداتِ کرام

د دعوتِ اِسلامي په مرکزي مجلسِ شوریٰ (Central Executive Body) کښې د ساداتِ کرامو فيضان هم شامل دے۔ د جون کال 2024 پورې په مرکزي مجلسِ شوریٰ کښې د شوریٰ درې ارکان **"ساداتِ کرام"** دي۔ (1) الحاج سيّد محمد لُقمان شاه عطاري (کراچی)۔ (2) الحاج سيّد محمد ابراهيم

شاه عطاري (کراچی)- (3) الحاج سیّد محمد عارف علي شاه عطاري (مهاراشټر، هندوستان)

## د اهلِ بیتو د مَحَبَّت یو ځانګړے مثال

د امیرِ اهلِسُنَّت خصوصي مرستیال څوک چې تقریباً هر وخت د هغوئي سره وي، د هغوئي نوم د مسلمانانو د څلورم خلیفه حضرت علي المرتضیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د مبارک نوم پهٔ نسبت "علي" دے۔ د هغوئي ځوي هم د امیرِ اهلِسُنَّت سره اوسیږي، د هغوئي نوم "حسن رضا" دے۔ هغوئي فرمائي: **"پهٔ حسن نوم باندې زما ځان قربان"** هغوئي د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نمسے، د حضرت بي بي فاطمهٔ الزهرا رَضِیَ اللهُ عَنْها د زړهٔ ټوټه ده۔ ماشوم ماشوم وي کله نا کله که شرارت کوي نو کله نا کله د نه کولو کار هم کوي لهٰذا زهٔ د دې ماشوم د نوم سره د داسې هیڅ کار ذِکر نهٔ خوښووم۔ د دې اَدَب له وجهې پهٔ عامو خبرو اترو کښې دا زهٔ د "مِټّهو" پهٔ نوم سره رابلم- (مدنی مذاکره، 9 جون 2024)

پهٔ دې انداز کښې زمونږ د پاره هم سبق دے چې کله د یو کَس د نوم د عظمت والا هستیٔ سره نسبت شي نو بیا د هغهٔ د نوم اَدَب او اِحترام کول پکار دي هغهٔ به ډیر بد بخته وي څوک چې د دې نسبت والا نوم پهٔ باره کښې نامناسبه خبره کوي۔

محفوظ سدا رکھنا شَہا بے اَدَبوں سے　　اور مجھ سے بھی سَرزَد نہ کبھی کوئی بے اَدَبی ہو

## د عشق او مَحَبَّت نه ډکه خبره

**اے د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتو عاشقانو!** د ”مَنْ عَامَلَنَا رَبِحَ“ **ترجمه: څوک چې زمونږ (یعني د آلِ رسول) سره څهٔ معامله کوي فائده بیامومي“** پهٔ مِصداق څوک چې د ساداتِ کرامو سره ښه سلوک او د اَدَب او د تعظیم معامله کوي نو هغهٔ پهٔ دُنیا او آخرت کښې فائده بیامومي۔ د کوم تنظیم د ټولو نه د وړومبي مَدَني مرکز اِفتِتاح چې د آلِ رسول پهٔ مبارکو لاسونو باندې وي، د کوم تنظیم د باني چې د سَیّدانو سره د بے حده مَحَبَّت مختلف اندازونه وي او د کوم تنظیم چې پهٔ ډیرو اهمو ذمه دارو باندې ساداتِ کرام تشریف فرما وي، پهٔ ملک او بهر ملکونو کښې ډیر سَیّدان شهزادګان د مختلفو مجالسو او شعبه جاتو مشران وي بلکې پهٔ بعضې ملکونو کښې د دیني کارونو کولو او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّت عام کولو عظیم منصب د ”سَیّدانو صاحبانو“ سره وي۔

**لږ نه ښه ډیر غور وکړئ** چې بیا به د عاشقانِ صحابه او اهلِ بیتو هٰغه دیني تنظیم دعوتِ اِسلامي د دې ساداتِ کرامو پهٔ دعاګانو ترقي ولې نه کوي؟ دې تنظیم ته به د مدینے وزرې څنګه نه لګي او څنګه به دا د سَیّدانو د نیکه بابا جان رحمتِ عالمیان صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو د دُنیا پهٔ اکثرو ملکونو کښې پهٔ پیغام عام کولو پهٔ نظر نه راځي؟۔ عاشقِ صحابهٔ او اهلِ بیت امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه خپل د نعتونو کتاب ”وسائلِ بخشش“ کښې لیکي:

یاالٰہی! شکریہ عطّار کو تو نے کیا  شعر گو، مِدحت سَرا اَصحاب و اہلِ بیت کا

(وسائلِ فردوس، ص 36)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زيارت بهترينه نسخه

د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زيارت بهترينه نسخه
حضرت شيخ ابُو المَوَاهِب شاذِلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کوم كَس چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت كول غواړي نو هغهٔ له پکار دي چې شپه وي او که ورځ د هغوئي دې پهٔ كثرت سره ذِكر كوي او د ساداتِ كرامو او اوليائے كرامو سره دې محبت كوي گنې پهٔ خوب (كښې د زيارت) دروازه پهٔ هغهٔ باندې بنده ده، ځکه چې دا حضرات د ټولو سرداران دي، دوئ چې د چا نه ناراضه شي نو الله پاک او د هغهٔ خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم د هغهٔ نه ناراضه كيږي۔

(افضل الصلوات على سيد السادات، ص: 127)

عاشقِ صحابهٔ او اهلِ بيت امیرِ اهلسُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه خپل د نعتونو كتاب "وسائلِ بخشش" كښې ليكي:

حُبِّ سادات اے خدا دے واسطہ
اہلِ بیتِ پاک کا فریاد ہے

(وسائل بخشش، ص: 598)

978-969-722-688-7
01082507

فيضانِ مدينه، محلّه سوداگران، زړه سبزي منډي
+92 21 111 25 26 92 / 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net